ایمان څه د پاسه اویا څانګې، یا څه د پاسه شپېته څانګې لري، چې تر ټولو غوره یې د: (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) ویيل او تر ټولو لاندې یې له لارې څخه د ضرري شیانو لرې کول دي

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «ایمان څه د پاسه اویا څانګې، یا څه د پاسه شپېته څانګې لري، چې تر ټولو غوره یې د: (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) ویيل او تر ټولو لاندې یې له لارې څخه د ضرري شیانو لرې کول دي، او حیا د ایمان یوه څانګه ده».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې ایمان ډېرې څانګې او صفتونه لري چې کمښې، باورونه او ویناوې په بر کې نیسي. او دا چې د ایمان تر ټولو لوړ او غوره خصلت د: «لا إله إلا الله» وینا ده، یعنې دا چې " له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته"، د دې وینا پر معنا پوهېدل او د هغې مطابق عمل کول او دا چې الله واحد او یوازینی د عبادت مستحق ذات دی چې له هغه پرته بل څوک د عبادت مستحق نشته. او دا چې د ایمان ترټولو لږ عمل د خلکو له لارې څخه د هر ضرري څیز لرې کول دي. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چې حیاء د ایمان له خویونو څخه یو خوی دی او دا هغه خوی دی چې ښو کارونو ته هڅول او له ناوړه کارونو څخه ډډه کولو ته انسان اړباسي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6468